کله چې دوه مسلمانان توره په لاس یو له بل سره وجنګیږي نو قاتل او مقتول دواړه په اور کې دي

له ابو بکرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اوریدلي دي چې فرمایل یې: "کله چې دوه مسلمانان توره په لاس یو له بل سره وجنګیږي نو قاتل او مقتول دواړه په اور کې دي »، ما وویل: اې د الله رسوله! دا خو قاتل دی چې - اور ته به ځي - نو د مقتول څه ګناه ده؟ هغه وفرمایل: «هغه د خپل ملګري د وژلو لېوالتیا درلود».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې که دوه مسلمانان په خپلو تورو سره له یو بل سره مخ شي، او هر یو یې د بل د تباه کولو (وژلو) اراده ولري؛ نو قاتل د خپل ملګري د مستقیم وژلو له امله په دوزخ کې دی. د مقتول په اړه صحابه په ستونزه کې ولوېدل: چې څنګه به هغه په جهنم کې وي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې هغه هم د خپل ملګري وژلو ته د لېوالتیا له امله په دوزخ کې دی او د قاتل له وژلو نه هېڅ شي منع نه کړ پرته لدې چې قاتل پرې چالاکي وکړه او ترې مخکې شو.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4304